الدرس الثاني عشر | دولسم درس
الوفود ومكاتبة الملوك | د بهر نه د وفدونو راتلل او بادشاهانو ته خطونه

دنبي كريم ﷺ نبوت ګېرچاپېره خور شوى وو، د هر طرفنه خلق ډلئ ډلئ د مدينے په طرف راتلل، او اسلام كښې داخليدل ، بل طرفته نبي كريم ﷺ د قبيلو مشرانو او بادشاهانو ته دعوتي خطونه ليږل شروع كړل، بعضو دعوت قبول كړو، په اسلام كښې داخل شو، بعضو د خط احترام وكړو، او هدايا ئے راوليږلے، خو اسلام ئے قبول نكړو، او بعضو د خط د وجے نه ډير غصه كښې راغلل او د نبى كريم ﷺ خط مبارك ئے شهيد كړو، لكه دا كار د فارس بادشاه كسرى وكړو ، رسول الله ﷺ ورته بدعاء (ښيرئ) وكړې : (**اللّٰهُمَّ مَزِّق مُلْكَهُ**) (اے الله ! بادشاهى ورله ټكړې ټكړې كړه) ، څو ورځې پس خپل ځوى مړ كړو ، او بادشاهى ئے ترى واغستله ، دغه رنګه د مصر بادشاه مقوقس مسلمان خو نه شو ليكن د رسول الله ﷺ د أستازى ډير احترام ئے وكړو ، او هغه سره ئے ډيرې هدايا نبى كريم ﷺ له راواستولے ، او دغه شان حالت د روم د بادشاه قيصر هم وو، هغه هم د رسول الله صلي الله عليه وسلم د خط خكلئ جواب وركړو، او د خط اكرام ئے وكړو او قاصد ته ئے هديې وركړې ، او د بحرين حاكم منذربن ساوى واقعه داسى وه چې كله ورته د رسول الله ﷺ خط ميلاو شو، دا خط ئے بحرين والو ته بيان كړو، بعضو اسلام قبول كړو او بعضو انكار وكړو .

**د نبي كريم صلي الله عليه وسلم وفات** :

رسول الله ﷺ چې د حج نه واپس شو، نو دوه يا يوه نيمه مياشت پس د بيمارئ ابتداء وشوه، او ورځ په ورځ بيمارى زياتيدله تردى چې د مونځ امامت نه معذور شو، نو ابوبكر صديق رضى الله عنه ته ئے د امامت امر وكړو چې خلقو ته مونځ كوه، د هجرت يولسم (١١) كال د ربيع الاول په دولسمه (١٢) نيټه د ګل په ورځ د رسول الله ﷺ روح مبارك د دنيا نه سفر وكړو، پدى وخت كښې د رسول الله ﷺ عمر مبارك درى شپيته (٦٣)كاله وو، صحابه كرام رضوان الله عليهم اجمعين چې خبر شو، ډير د غم او پريشانئ حالت وو، څوك دى خبرى منلو ته تيار نه وو ، بالآخر ابو بكر صديق رضى الله عنه خطبه وكړه ، مسلمانانو ته ئے د تسلئ خبرى وكړې، چې رسول الله ﷺ يو بشر وو، او هر بشر باندى به مرګ راځى، ددى نه پس صحابه كرام مطمئن شو ، او رسول الله ﷺ له ئے غسل وركړو ، او د عائشة رضى الله عنها په كوټه كښې ئے دفن كړو ، رسول الله ﷺ د نبوت نه مخكښې څلويښت كاله (٤٠) مكه مكرمه كښې أوسيدلو او ديارلس (١٣) كاله د نبوت نه پس مكه مكرمه كښې وو ، او مدينه منوره كښې رسول الله ﷺ لس (١٠) كاله اوسيدلئ دى ، د رسول الله ﷺ د وفات نه پس په اتفاق سره د مسلمانانو اول خليفه ابوبكر صديق رضى الله عنه مقرر شو .